مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۶/۰۷/۰۷

# یار

هغه یار چي،
مستو سترګو نه يي بوی د ميخاني ځي
او چي خاندي
د رندانو په مالت کي
نو خندا يي د ګبينو د مچيو ملکه شي
د نارنجو په غوټيو
خرابات ته يي ورمي ځي
چي ساقي يي په مذهب ده
او له ژبي يي تر ذهنه
سرې سکروټي د پيالي ځي
هغه یار چي
لېر لوګی دی
لره مينه
لېر په ژوند پسي لېمو نه تللي اوښکه
او
نور هيڅ څه
را په شا يي دي
غمونه،
غرونه غرونه
او بې‌پايه په څپو سمندرونه
ورته ګينم
راته ګډ وي
ربابونه
کتابونه،کتابونه، کتابونه
سل فصلونه
زر بابونه
اخر هيڅ څه
يوه ښکلي مستانه خندا يي واخلي
او رګ رګ يي داره وکړي د غميزو
رااللوتي يي له سترګو
بيا نسيم د ياراني دی
بيګاه بيا نيم ليونی شو
راته ټينګ و،
په يوه ساه و نښتی


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

د کوم ډاګ کیسه یې وکړه
داسې ډاګ چې
د کوم غره لمن کې پروت دی
له ځیرې هوا یې وړم
د نارنجو د غوټیو قافلې ځي
چې پرې سیورې وي د بنګو
د زېړو پاڼو سمسورې ارواګانې
هغه یار چې یې د سترګو په هینداړو کې ګډېږي سل څمونه
او ترشا یې پلونه پرېښي
کتابونه،
یا غمونه
او یا غرونه .
یار ناڅاپه راته وویل:
چې د غرو لمن کې ډاګ دی
او په ډاګ کې
زما ده خوښه ستا لپاره یوه زمکه
یار ناڅاپه لیونی شو
چې :
په بل ځای کې دې نه‌پرېږدم چې «ښخ» شې
تا به دلته ښخومه
څکه لمر دلته راخیژي
او دروړم به کتابونه
څاڅکې څاڅکې د نارنجو د ګلانو رنې پرخې
او په ډاګ کې به
د سپین مرمر یو لوړ منار ولاړ وي
په کې ریږدي به د عشق لپاره زړونه
او بیا روسته به لړ لرې ستا د خاورې په هوا کې
زه هم سترې
مست
بې‌خوبه
ناکراره
له غمونو په خندا کې راتاوشوی
پرېوتلی
داسې ولوېږم په خاورو
چې له رګ رګ نه مې داري د شرابو فوارې ځي
چې له خاورې نه مې بوی د میکدې ځي
او
چې خاندم
ستا مرمرو ته ځپې ځپې ځپې ځي
د هینداړو په مخونو کې روان سمندرونه
او
رازونه
کتابونه، کتابونه، کتابونه.

۴ جولای - ۲۰۲۶


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ